## د نبي ستوري د ( ژبې ارواپوهنه ) کې فساد

شاه محمود کډوال

د ( پوهنوال ) علمي رتبې له پاره  مې ( په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه ) تر سرليک لاندې مقاله وليکله او د علومو اکاډمۍ د ( کابل ) علمي مجلې د ( ۱۳۹۷ ل ، دربيمه دوره ، لومړۍ گڼه ، ۱۲٦ – ۱۳۴ مخونو ) کې خپره شوه. هماغه وخت مې سمدستي د ( تاند ) ويبپاڼې ته واستوله چې چټکه خپره شي او ډېر مينوال يې ولولي. تاند مقاله خپره کړه او نورو ويبپاڼو ترې کاپي او له خپلو پاڼو خپره کړه. تاند اوس زما ياده ليکنه له منځه وړې ده ، خو نورې پکې شته. د له منځه تگ لامل يې د دې ليکنې له لوستلو وروسته څرگندېږي. د يادولو وړ ده چې په تاند کې پوهاند زيار پر مقاله تبصره کړې وه. زما نږدې ټولې علمي مقالې ما تاند ته استولې، هغوی خپرې کړې او نورو ترې کاپي کړې دي.

ما په وروستيو کې خپل ( ۹ ) بېلابېل اثار په کتابي بڼه ببړني ترتيب کړل او د کتابتون ( Ketabton ) بربښنايي پاڼې ته مې ورپورته کړل. په دوی کې يو ( په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه ) ده چې زما بېلابېلې علمي ليکنې پکې راټولې شوې دي.

نبی ستوری چې ( د ژبې اروپوهنې ) ليکوال دی ، زه يې له هغه وخته پېژنم چې ما په کابل پوهنتون کې ماسټرې کوله او د پوهاند يون د مرستيال په توگه مې کله کله د هغه مضمونونه تدريسول.

Ketabton.com

د نبي ستوري د ( ژبې اروپوهنې ) اثر په ( ۱۳۹۹ ل ) کال کې د ( سولې مطالعاتي، څېړنيز او خپرندوی مرکز ) له لوري چاپ او خپور شوی دی.

زه د دې اثر د چاپ په اړه هماغه وخت پوهېدم چې ټولنيزو رسنيو کې خپور شو ، غوښتل مې ويې لولم او د ژبپوهنې د تدريس او څېړنې په برخه کې ترې گټه واخلم ، خو نږدې کتابتونو کې نه وو . نن ( ۳ / ۵ / ۱۴۰۲ ) د کابل ، په احمدشاه بابا مېنه کې علمي کتابپلورنځي ته لاړم او په ياد اثر مې سترگې ولگېدلې ، اثر مې پرانيست چې نيوليک يې وگورم. يو سرليک يې ( ژبه او ماغزه ) وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا راته په زړه پورې وو ، ځکه ما پکې مقاله ليکله وه ، چې لږ مې ولوست ، نږدې ټوله زما مقاله وه ، خو زما نوم په يو ځای کې هم نه وو. کتاب مې په ولاړه يو څه ولوست ، چې څومره مې لوست کړکيچ يې ډېرېده، اثر مې وپېره او کور ته مې راوړ. کور کې ورته کېناستم ، د کتاب هغه برخې مې ولوستې چې زه پرې شکي وم او په کمپيوټر کې مې د خپلې مقالې له متن سره پرتله کړې چې راپور يې دلته لاندې ليکم.

د اثر لسم سرليک ( ژبه او ماغزه ـ ۱۲۵ مخ ـ لومړی پراگراف ) زما د مقالې په ( لنډيز ) پيل شوی ، په همدې مخ کې يې بيا بل پراگراف زما د مقالې د ( مواد و ميتود ) له برخې راخيستی دی. په ( ۱۲٦ مخ ) کې درېيم پراگراف زما د مقالې ( سريزه ) ده.

د اثر په ( ۱۲۷ مخ ) د ( مغزو جوړښت او فعاليتونه ) سرليک لاندې په لومړي پراگراف کې زما د مقالې د ( ارزښت ) برخه رااخيستل شوې ده.ورپسې دويم پراگراف کې زما د مقالې د ( مبرميت ) برخه ده. بل پراگراف کې يې زما د مقالې ( موخې ) رااخيستې دي. بيا په ( ۱۲۸ مخ ) څلورم او پنځم پراگراف کې زما د مقالې اصلي متن يا د څېړنې اصلي برخه رااخيستل شوې ده. دا برخه زما په مقاله کې د پوهاند زيار ( پښتو پښويه ـ ۱۳۸۲ ل ) نه اخيستل شوې، خو ستوري هېڅ په نښه کړې نه ده. په ياد مخ کې شپږم او اووم پراگراف زما په مقاله کې د رحيم الهام د ( روش جديد در دستور زبان دری – دويم چاپ ) نه ژباړه ده چې هېڅ ماخذ نه لري.

په ( ۱۲۹ مخ ) اتم پراگراف کې هم زما د مقالې برخه ده ، دا برخه مې د ( محمد ناصر فروتن ) له ( فزيولوژي طبي ـ دويم چاپ ) نه راژباړلې ده. ياده برخه په مقاله کې د (Myelencephalon) برخې نه وروسته څرگند ماخذ لري چې ستوري له منځه وړی دی.

د ( ۱۳۰ مخ ) وروستۍ کرښه يا د بل پراگراف پيل هم زما د مقالې کټ مټ بې ماخذه کاپي ده. په ( ۱۳۱ مخ ) کې د ( شمس ، ۱۳۹۲ : ۴۵ ) ماخذ ذکر شوی دی ، په داسې حال کې چې زما په مقاله کې يې ماخذ ( جبران جوهر ، د ارواپوهنې مبادي ) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ( ۱۳۱ مخ ) کې د ( شمس ) د ماخذ له لیکلو وروسته ، بیا زما د مقالې ورپسې برخه رااخیستل شوې ده. دا برخه چې د ( ۱۳۲ مخ ) په پیل کې پای ته رسېږي، زما په مقاله کې ( محمد ناصر فروتن ) ماخذ لري ، خو نبي ستوري لیکلی نه دی.

په ( ۱۳۲ مخ ) کې ( د مغزو عمومي دندې ) سرلیک هم زما د مقالې برخه ده. دا برخه ما د ( روانشناسي عمومي ) نه راژباړلې وه چې زما په مقاله کې ماخذ لري، خو ستوري ماخذ لیکلی نه دی. په یاد مخ کې زما مقاله غځېدلې او زما کلمې او جملې کټ مټ رااخیستل شوي دي. دلته د ( بروکا ـ Broca ) سرلیک کې ما له دوو ماخذونو ( شمس او مرهون ) ګټه اخیستې ، خو ستوري دواړه له منځه وړي دي.

په ( ۱۳۳ مخ ) کې د ( ورنیکه ) سرلیک هم کټ مټ زما له مقالې رااخیستل شوی چې ما د ( شمس ) له اثر ( روانشناسي فزیولوژیک ) ژباړه کړې وه ، خو ستوري ماخذ له منځه وړی دی.

په ( ۱۳۳ مخ ) کې د ( ورنیکه ) سرلیک نه وروسته دوه پراګرافونه هم کټ مټ زما د مقالې برخه ده چې ما د ( شمس ) له اثر راژباړلې ده او ماخذ مې ورته لیکلی دی ، خو ستوري ورته د ( ژبې ځنګه زده کېږي ؟ ) اثر ماخذ ورکړی چې لیکوال یې ( لایټ برون ، پیسټې ام ، سپیډا ، نین ) ښوولي دي.

زه له پورتني راپور لیکلو نه وروسته خپل نظر نه لیکم ، که څه هم د نبي ستوري د پورتني فساد په شخصي او سیاسي لاملونو پوهېږم. دا موضوع د هېواد دوو سترو ملي څېړنیزو او پوهنیزو مرکزونو ته پرېږدم چې پرېکړه پرې وکړي.

زما مقاله په ( ۱۳۹۷ ل ) کال کې د علومو اکادمۍ خپره کړې ده ، هغوی پوه شه او د خپلې خپرې شوې مقالې ننګه. که زما مقالې کې فساد وو ، هلته ولې خپرېدله ، که ما د نبي ستوري نه غلا کړې وي ، هغوی ولې تشخیص نه کړای شوه ؟ په هر صورت زه اوس هم د علومو اکاډمۍ د هرې پوښتنې او پلټنې ځواب ته حاضر یم.

له بلې خوا ما په همدې مقاله د ( پوهنوال ) علمي رتبې د څېړنیزو اړتیاوو یوه برخه بشپړه کړې ده ، دا مقاله ولې د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې او پلټنې څانګو منلې او له ( ۱۳۹۹ ل ) کال راپدېخوا د (

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنوال ) علمي رتبې مانیزه او مادي ګټه راکوي ؟ بیا وایم چې زه په هېواد کې یم او د لوړو زده کړو وزارت مامور یم ، د خپل وزارت د هرې پوښتنې او پلټنې ځواب ته حاضر یم.

د نبي ستوري له اثره ښکاري چې ( د ژبې اروا‌پوهنه) هغه تېزس دی چې نوموړي د ماستری د بشپړتیا له پاره لیکلی دی. ستوري د کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ماستري کړې ده. د یاد کړکیچ بل اړخ د کابل پوهنتون پښتو څانګه ده چې له خپل تېزس دفاع وکړي.

په پای کې ښایي لوستونکو هغه درد محسوس کړی وي چې ما ته رسیدلی دی ، ځکه له ما غلا شوې ده ، زما زیار او کار نبي ستوري پټ کړی ، ځکه خو مې پرې دا څو کرښې ولیکلې. پوهېږم چې نبي ستوری به بیا زما پر وړاندې د تېر فساد په څېر سیده او ناسیده فساد کوي ، خو د دې لیکنې مانا دا ده چې له داسې غلو نه ډارېږم.

د تېر شل کلن څه چې د پنځوس کلن او پنځه زره کلن سیاسي ، مالي ، پوځي ، پوهنیز او ... فسادونو د پای په هېله !!!

لاندې د نبي ستوري د ( ژبې اروا‌پوهنه ) پاڼې شته او ورپسې زما مقاله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰- ژبه او ماغزه

ژبه یو داسې غړیز سیستم دی، چې د وګړو د عصبي سیستم او مغزو تر کنټرول لاندې فعالیت کوي. له شک پرته چې د وګړي ټول اروايي او بدني خوځښتونه او فعالیتونه د یوه واحد سیستم تابع دي چې ټول عصبي سیستم رغوي. په دغه سیستم کې بیا بېلابېلې برخې ګډې دي، لکه: مغز، شوکي نخاع او... چې هره برخه یې خپله دنده لري او د بدن یو فعالیت کابو کوي. ژبه چې غږونه او غږ غونډونه یې د یوې معنا او مفهوم لپاره د وګړو په بدن کې زېږي، له عصبي سیستم او مغزو سره اړیکه لري او له هغه ځایه ورته لارښوونه کېږي. غږ او غږغونډونه چې د یوې فزیکي ښکارندې په توګه له خولې راوځي، یوه معنا او مفهوم بل وګړي ته لېږدوي چې معنا او مفهوم بیا یوه ذهني ښکارنده ده.

ژبه د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې غړیز سیستم دی او ماغزه د ټولو انساني خوځښتونو مرکزي څارګر، په دې معنا، هر ډول خوځښت چې د انسان په بدن پورې اړه لري، په یو ډول له مغزو سره تړل کېږي. د پوهونې او راپوهونې لړۍ خو بیا هسې هم څرګند مغزي فعالیت ګڼل کېږي. د ژبې او وینا اصلي موخه هم د وګړو ترمنځ د اړیکو ټینګښت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل ته د هغو مفاهیمو لېږدونه ده، چې د دوی په مغزو کې دي. ژبنی غرېز سیستم د مفاهیمو د یوې لېږدونکې وسیلې دنده ترسره کوي. موږ دلته هڅه کوو، هغه تخنیکي لړۍ وسپړو چې ماغزه څه ډول په ژبه، کړهار، وینا او پوهونه کې ونډه اخلي.

د ژبپوهنې دغه موضوع یو ډول څېړي چې ژبنۍ لړۍ او چار له عصبي سیستم او مغزو سره څه اړیکی لري. ژبه د یوه غرېز سیستم په توګه د عصبي سیستم تر څار لاندې فعالیت کوي. عصبي سیستم او ماغزه یوخوا د ګړیدلو د فعالیت څارګر دي او غږغوندونه یا وییونه هغه معناوې بل ته لېږدوي چې زموږ په مغزو کې دي، بلخوا د اورېدنې فعالیت هم له مغزو سره اړیکی لري.

د ژبې مرکز په لوی دماغ کې دی چې پر ژبې د پوهیدلو او کنټرول دنده لري، د زېږېدو په وخت کې د انسان د دماغ یوازې څلورمې برخې یعنې په سلو کې پنځه ویشتو (۲۵ ٪) وده کړې وي او پنځه اویا (۷۵ ٪) بیا وروسته وده کوي. خو د ژوو دماغ په سلو کې د پنځه شپېتو ( ۶۵ ٪ ) څخه زیات د زېږېدو په وخت کې بشپړ وي.

لوی دماغ یا ماغزه په دوو برخو وېشل شوي دي، یوه یې کیڼه برخه ده او بله یې ښۍ برخه ده. په څېړونو کې ثابته شوې ده، چې د ښې لاسو کسانو په سلو کې د نویو (۹۰ ٪) او د کیڼ لاسو کسانو په سلو کې د شپېتو (۶۰ ٪) د ژبې مرکز د لوی د ماغ په کیڼه برخه کې دی. نو د اکثرو انسانانو د ژبې مرکز د لوی دماغ په کیڼه برخه کې دی. د غړونو د ژبې دستګاه تالو دی، چې د غړونو پتی لري او د ژبې د عضلې او شونډو په مرسته سره غړونه جوړوي که د ژبې مرکز ته په لوی دماغ کې تاوان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکان ورسېږي؛ نو ژبه کې هم خنډ پېښېږي او ژبه نښلي او يا د خبرو څخه بلکل پرېوځي او سړی ګونګېږي. که څه هم د تالو د غړ پټی يې جوړې وي داسې هم کېدلای شي، چې د ژبې مرکز په لوی دماغ کې جوړ وي؛ خو د تالو د غړ پټی خرابې شوې وي په دې حالت کې هم په خبرو کې خنډ راځي. (لايټ برون، ۱۳۹۶: ۲۳)

## ۱-۱۰ د مغزو جوړښت او فعاليتونه

اوس دلته د ژبې او غريزې پوهونې په لړی او بهير کې د عصبي سيستم او مغزو پر تخنيکي ونډې خبرې کوو چې کليدي نومونې يې ژبه، وينا، عصبي سيستم ، ماغزه دي او دا ډول څېړنې په پښتو ژبه کې په نشت شمېرل کېږي، ځکه يې اړتيا ډېره ده. دا څېړنه په ژبه کې د ونډوالو اړخونو د پېژندنې لپاره اغېزناکه او ګټوره ده.

پښتو ژبپوهنه که څه هم تر يو ځايه رسېدلې او د پښتو ژبې زده کوونکو او څېړونکو ته کافي مواد لري؛ خو لا ډېر کار ته اړتيا شته، په نړيوالو معتبرو او پرمختللو ژبو کې ژبپوهنه ډېره بډايه ده. کومه موضوع چې په دې ليکنه کې څېړل شوې، په پښتو کې يې څرکونه لږ يا هېڅ دي. دا موضوع د ژبې د څېړنې او پوهېدنې په لړ کې ډېره مهمه ده چې پوه شو، ماغزه په ژبه او وينا کې څه ونډه او څه ډول کار کوي.

د وګړني او تولنيز پوهاوي يوه بشپړه ګټوره وسيله ژبه ده چې له غړونو او غړغونډونو رغېدلې ده. د ژبې او ګړېدلو په چاره کې د مغزو ونډه پېژندل او په هغې پوهېدل د دې څېړنې موخه ده. همدارنګه په دې وسيله د څېړونکي لپاره د معنوي امتياز لاسته راوړنه د دې ليکنې بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه ده.

کله چې څوک وغواړي يو څه په ژبه راوړي، لومړی يې مغزو کې يو غږانځور جوړېږي چې يوه روحي چار ده، ماغزه غړيز غړي په کار اچوي، چې د سا هوا او بيا بهرنۍ هوا په مرسته غږ پر څپو بدل کړي. په دې توګه د همغه غوښتنې يا موخې ذهني غږ انځور د ويلو او اورېدلو وړ ګرځي او ګړنی يا ژبنی چار ترسره کېږي. نو که غږېدونکی غواړي همغه څه يو بل چا ته څرګند کړي يانې د چا خبرې واوري، همدا چار په سرچپه ډول پيل او پای مومي.

له غوږ نه يې مغزو ته د فزيولوژيکي لېږد او بيا يې په مغزو کې له ګړېدونکي سره روحي سازښت ، معنا دا چې که اورېدونکی پر خپل وار هم وغواړي له ګړېدونکي سره وګړېږي؛ نو د ده له غوږه د غږېدونکي تر غوږ پورې به همغه لار وهي.

ژبه د کړکېچنو عصبي، عضلي او فزيکي عمليو او خوځښتونو ټولګه ده. د انسان عصبي جهاز او ماغزه د ګڼو عصبي سلولونو له ټولګو څخه جوړ شوی دی چې نومېرلې دندې لري. د مغزو په يوه برخه کې يو شمېر عصبي ولی غځېدلي او په مستقيم او نامستقيم ډول د بدن ټولو غړو او غړيزو غړو ته رسېږي. کله چې وغواړو يو څه په ژبه راوړو ، لومړی يو ډول عصبي فعاليت د مغزو په خوځند ځای (Motor Aria) کې رامنځته کېږي چې د غړيزو غړو کنټرول يې پر غاړه دی. که څه هم د دې فعاليت لامل او ډول په سمه توګه څرګند نه دی؛ خو د فزيولوژۍ پوهان وايي چې دا فعاليت په سلولونو کې د يوې کېمياوي عمليې له کبله ترسره کېږي او د غړيزو غړو د خوځښت او فعاليت لامل ګرځي. په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرهار یا وینا په خو پړاوونو کې پای ته رسي:

ګرېدل: په دې معنا چې عصبي فعالیتونه پېلېږي او غړیز غړي خوځوي او د غړیزو غړو په خوځېدو سره د سا هوا او بیا له انسان راګرځېدلې هوا خپیږه کېږي او په دې ډول ویناییز غړونه زېږي او د انساني چاپېریال هوايي څپې د متحدالمرکز کرو په څېر خوځېږي او لار وهي او د اورېدونکي غوږ ته رسي. د اورېدونکي غوږونه، اورېدلي غړونه د اورېدونکي حس د عصبي ولیو په مرسته مغزو ته لېږدوي. دا غږونه، له هغو غړیزو بېلګو او نظامونو سره چې وییونه او غونډونه یې نوموو او په حافظه کې خوندي او زېرمه دي، تطبیق کېږي او د هغوی د مفهوم او مدلول تر درک وروسته ویناوال یا ګرېدونکي ته ځواب وايي او دا عملیه بیا ترسره کېږي، په دې ډول د ژبنی یا غړیزې پوهونې عملیه او ګرېدل پای ته رسي.

عصبي سیستم د غړو ټول فعالیتونه کنټرولوي، دا سیستم د اندوکراین په پرتله چټک دی چې اندوکراین هم یو کنټرولي سیستم دی. د انسان عصبي سیستم په ټوله کې دوه لویې برخې لري:

الف - مرکزي عصبي سیستم (Central Nervous System)

ب - محیطي عصبي سیستم (Peripheral Nervous System)

۱ - مرکزي عصبي سیستم بیا لاندې دوې برخې لري:

- ماغزه
- شوکي نخاع

۲ - محیطي عصبي سیستم

محیطي عصبي سیستم چې له مغزو او شوکي نخاع څخه بهر پروت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوى برخې لري:

الف - ځاني يا خودکاره عصبي سيستم

دا سيستم بيا لاندې برخې لري:

- سمپاتيتيک عصبي سيستم
- پاراسمپاتيتيک
- د هاضمې جهاز دننني عصبي سيستم

ب - جسمي عصبي سيستم

دا عصبي سيستم هم لاندې برخې لري:

- حسي نيورونونه
- حرکي نيورونونه
- مغزه بيا لاندې درې لويې برخې لري:

پارسپلين چې مخنۍ مغزه (Forebrain) يې هم بولي، لاندې دوى برخې لري

- Telencephalonچې د مغزو دوه برخې يا کرې پکې دي.
- Diencephalon چې تلموس، هيپوتلموس، ميتاتلموس او سب تلموس پکې دي.
- Mesencephalon چې منځنۍ مغزه (Midbrain) يې هم بولي.
- Rohmbencephalon چې وروستي يا کوچنۍ ماغزه (Hindbrain) يې هم بولي، په دوو برخو وېشل کېږي:
- Metencephalonچې له حدبه (Pons) او مخيخ (Cerebellum) څخه رغېدلې برخه ده.

مرکزي عصبي سيستم چې له ماغزو (Brain) او شوکي نخاع (Spinal

(c) ketabton.com: The Digital Library



cord) څخه جوړ دی چې پر حیاتي عملونو باندې د څار مرکزونه دی. په دې معنا چې د چاپېریال او د بدن له دننه څخه اخیستل شوي اطلاعات تشخیص او تعبیروي او هغوی ته ځواب وايي.

په مغزو کې (لوی او مخني، منځني او د مغز ساقه) برخې ګډون لري، د لویو ماغزو هغه برخې چې زموږ د څېړنې سره سیده اړیکي لري، په لاندې ډول، د هغوی له دندو سره:

Frontal برخه: خبرې کول، رفتار یا سلوک، د مسایلو حل، پلان جوړونه؛

Parietal برخه: د درد حس، فشار، تماس، تودوخه، خوند؛

Temporal برخه: اورېدل، بویول، د بدن توازن، حافظه؛

Occipital برخه: لیدل، د ژبې زده کړه. (شمس، ۱۳۹۲: ۴۵)

د (فزیولوژي طبي) اثر د یادو برخو دندې داسې لیکي:

Frontal د پرانتل برخه یا پیځکی

د فکر، ګرېدا او اروایي حالت کنترول

د خوځښتونو پلان رامنځته کول

Parietal د بوالي پیځکی

د پوتکي، مفاصلو او غړو د حسي آخذو اخیستنه او د درد او اړیکو د آخذو په توګه د هغوی تحلیل، په فضا کې د پښو او لاسو وضعیت.

د غوږو او سترګو د وارداتي بهیر تحلیل

Occipital د اکسیپیتل پیځکی

د لید مرکز

Temporal د شقیقې پیځکی

د غږ تحلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروايي احساس
د څيزونو د بڼې او رنګ تحليل
پر ګړېدا پوهېدل
د بويولو ځای

## ۲-۱۰ د مغزو عمومي دندې

مخنی پیښکی ( Frontal lobe ) د ډېرو استعدادونو ځای دی، چې کولای شو له هغو څخه يې د خپلوی، نوښت او پلان جوړونې ځواک نوموونه ياد کړو. (Parietal lobe) دا پيښکی يا برخه د مغزو په پورتنی برخه کې د مخنيو مغزو تر شا پرته ده. بدني حواس همدلته رامنځته کېږي او د ژوند د چاپيريال اړوند يادښتونه هم همدلته زيرمه کېږي.

د وروستيو مغزو برخه: (Occipital lobe) په بشپړ ډول د سترګو او ليدنو د درک لپاره ځانګړې شوې ده.

د شقيقې پيښکی: (Temporal lobe) د سترګو او غوږو ترمنځ مغزو په دواړو لوريو کې ځای لري. اصلي دنده يې د اورېدلو درک، ژبه، حافظه او د هېښتيا منلو ځينې بڼې دي.

له پورتنيو ټولو يادونو زموږ موخه دا ده چې په مغزو کې هغه برخه وپېژنو چې په ژبه، پوهونه، ګړېدنګ او اورېدنګ کې ونډه لري. ځينې د عصبي سيستم او مغزو هغه برخه چې په ژبنيو فعاليتونو پورې اړه لري داسې راښيي:

۱ - بروکا: پرانسي رنځپوه (پيرپل بروکا) پر (۱۸۶۱ م) کال پر هغو وګړو ازميښت وکړ، چې ګړېدنګ کې يې نيمګړتيا وه او پوه شو چې د مغزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه برخه کې زيان، د ژبنۍ او ګرېدنګ نيمګړتيا او تتله کېدو لامل ګرځي. له همدې کبله د مغزو دغه برخه د هغه په نوم (بروکا) ياده شوه. دا برخه د مخنيو مغزو په کيڼ اړخ کې پرته ده او د غړونو د زېږد دنده لري.

۲ - ورنيکه: کارل ورنيک الماني رنځپوه، د (پيرېل بروکا) لار په بل ډول وځارله. هغه پوه شو چې د ګرېدنګ نيمګړتيا په توله کې د (بروکا) د برخې زيان نه دی، بلکې يوه بله برخه چې د بوهېدنې او درک دنده لري، د ژبنۍ يا ګرېدنګ نيمګړتيا لامل ګرځي. له همدې کبله د مغزو دغه برخه د دې پوه په نوم ( ورنيک ) ياده شوه.

ارواپي فزيولوژي د هغو وګړو وضعيت څېړلی چې ژبنۍ نيمګړتيا لري او دا يې روښانه کړې چې دا نيمګړتياوې د مغزي زيانونو له کبله رامنځته کېږي. ځينې وخت مغزي سکتې، تومورونه او نور په وينا يا ګرېدنګ کې د اختلال لامل ګرځي. د دغو حالتونو يو مهم يې د مغزي رګونو ترل کېدل دي، که د ګرېدنګ په اړوندو مرکزونو کې رامنځته شي، د ژبې يا ګړهار د نيمګړتيا يا تتله کېدو لامل ګرځي. په ژبنۍ يا ويناييزه نيمګړتيا کې د مغزي زيان له امله د ژبې په پوهېدنه، د جملو تکرار او معناوال ګرېدنګ کې نيمګړتيا پېښېږي.

د ښي لاسو وګړو تر ۹۵ سلنه ډېر او د کيڼ لاسو ۷۰ سلنه د ګرېدنګ لپاره د هغوی د مغزو کيڼه برخه يا کره کاروي. دې ته هم پام په کار دی چې د مغزو ښي نيمه کره هم د ګرېدلو پر وخت د قضايي اړيکو، نقشو او کرکيچنو هندسي تصويرونو په درک کې ستره ونډه لري. (۲۲۲:۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته زه خپله هغه مقاله خپروم چې ماسره کمپیوټر کې زېرمه ده. له همدې زیرمې یوه کاپي د ( کابل ) مجلې او بله (تاند) ته استول شوې ده ، بیا یې (انعکاس) او ښایي نورو کاپي خپره کړې ده.

## په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه

پوهندوی شاه محمود کډوال
لغمان پوهنتون ، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی

**لنډیز :** ژبه یو داسې غړیز سیستم دی چې د وګړو د عصبي سیستم او مغزو تر کنترول لاندې فعالیت کوي. له شک پرته چې د وګړي ټول اروايي او بدني خوځښتونه او فعالیتونه د یوه واحد سیستم تابع دي چې ټول عصبي سیستم رغوي . په دې سیستم کې بیا بېلابېلې برخې ګډې دي ، لکه : مغزه ، شوکي نخاع او ... چې هره برخه یې خپله دنده لري او د بدن یو فعالیت کابو کوي . ژبه چې غږونه او غږغونډونه یې د یوې معنا او مفهوم لپاره د وګړو په بدن کې زېږي ، له عصبي سیستم او مغزو سره اړیکه لري او له هغه ځایه ورته لارښوونه کېږي. غږ او غږغونډونه چې د یوې فزیکي ښکارندې په توګه له خولې راوځي ، یوه معنا او مفهوم بل وګړي ته لېږدوي ، چې معنا او مفهوم بیا یوه ذهني ښکارنده ده .

**سریزه :** د ژبپوهنې یو ډول دا موضوع څېړي چې ژبنۍ لړۍ او چار له عصبي سیستم او مغزو سره څه اړیکی لري. ژبه د یوه غړیز سیستم په توګه د عصبي سیستم تر څار لاندې فعالیت کوي . عصبي سیستم او مغزه یوخوا د ګړیدلو د فعالیت څارګر دي او غږغونډونه یا وییونه هغه معناوې بل ته لېږدوي چې زموږ په مغزو کې دي ، بلخوا د اورېدنګ فعالیت هم له مغزو سره اړیکی لري .

**کلیدي نومونې :** ژبه ، وینا ، عصبي سیستم ، مغزه .

**ارزښت :** دا څېړنه د ژبې او غړیزې پوهونې په لړۍ او بهیر کې د عصبي سیستم او مغزو پر تخنیکي ونډې څرخي . دا ډول څېړنې په پښتو ژبه کې په نشت شمېرل کېږي ، ځکه یې اړتیا ډېره ده . دا څېړنه په ژبه کې د ونډوالو اړخونو د پېژندنې لپاره اغېزناکه او ګټوره ده .

**مبرمیت :** پښتو ژبپوهنه که څه هم تر یو ځایه رسېدلې او د پښتو ژبې زده کوونکو او څېړونکو ته کافي مواد لري ، خو لا ډېر کار ته اړتیا شته ، په نړیوالو معتبرو او پرمختللو ژبو کې ژبپوهنه ډېره بډایه ده . کومه موضوع چې په دې لیکنه کې څېړل شوې ، په پښتو کې یې څرکونه لږ یا هېڅ دي . دا موضوع د ژبې د څېړنې او پوهېدنې په لړ کې ډېره مهمه ده چې پوه شو ، مغزه په ژبه او وینا کې څه ونډه او څه ډول کار کوي .

**موخې :** د وګړني او ټولنیز پوهاوي یوه بشپړه ګټوره وسیله ژبه ده چې له غږونو او غږغونډونو رغېدلې ده . د ژبې او ګړېدنګ په چار کې د مغزو ونډه پېژندل او په هغې پوهېدل د دې څېړنې موخه ده . همدارنګه په دې وسیله د څېړونکي لپاره د معنوي امتیاز لاسته راوړنه د دې لیکنې بله موخه ده .

**مواد او میتود :** د دې څېړنې او د موضوعاتو د رڼاوي او سپیناوي لپاره له ګټورو او باوري اخځونو ګټنه شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې غړيز سيستم دی او مغزه د ټولو انساني خوځښتونو مرکزي څارګر ، په دې معنا ، هر ډول خوځښت چې د انسان په بدن پورې اړه لري ، په يو ډول له مغزو سره تړل کېږي . د پوهونې او راپوهونې لړۍ خو بيا هسې هم څرګند مغزي فعاليت ګڼل کېږي. د ژبې او وينا اصلي موخه هم د وګړو ترمنځ د اړيکو ټينګښت او يو بل ته د هغو مفاهيمو لېږدونه ده چې د دوی په مغزو کې دي. ژبنی غړيز سيستم د مفاهيمو د يوې لېږدونکې وسيلې دنده ترسره کوي. موږ دلته هڅه کوو ، هغه تخنيکي لړۍ وسپړو چې مغزه څه ډول په ژبه ، ګړهار ، وينا او پوهونه کې ونډه اخلي.

**پوښتنې :**

۱ـ د مغزو جوړښت څه ډول دی ؟

۲ ـ په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه څنګه او څومره ده ؟

۳ ـ د مغزو په کومه برخه کې د وينا عمل ترسره کېږي ؟

۴ ـ د مغزو په کومه برخه کې اورېدنه ترسره کېږي ؟

ژبه د داسې تړوني ، غړيزو پيلامو يو غونډال دی چې د يوې ټولنې وګړي يې د خپلمنځي تړاو او پوهاوي لپاره پر کار اچوي (۳ : ۲۸) .

کله چې څوک وغواړي يو څه په ژبه راوړي ، لومړی يې مغزو کې يو غړانځور جوړېږي چې يو روحي چار دی ، مغزه غړيز غړي په کار اچوي چې د سا هوا او بيا بهرنۍ هوا په مرسته غږ پر څپو بدل کړي. په دې توګه د همغه غوښتنې يا موخې ذهني غږ انځور د ويلو او اورېدلو وړ ګرځي او ګړنی يا ژبنی چار ترسره کېږي. نو که غړېدونکی غواړي همغه څه يو بل چا ته څرګند کړي ، په بله وينا ، د چا خبرې واوري ، همدا چار په سرچپه ډول پيل او پای مومي.

له غوږ نه يې مغزو ته د فزيولوژيکي لېږد او بيا يې په مغزو کې له ګړېدونګي سره روحي سازښت ، معنا دا چې که اورېدونکی پر خپل وار هم وغواړي له ګړېدونکي سره وګړېږي ، نو د ده له غوږه د غړېدونکي تر غوږ پورې به همغه لار وهي ، لکه پاس چې څرګنده شوه ( ۴ : ۸ ).

ژبه د کړکيچنو عصبي ، عضلي او فزيکي عمليو او خوځښتونو ټولګه ده . د انسان عصبي جهاز او مغزه د ګڼو عصبي سلولونو له ټولګو څخه جوړ شوی دی چې نومېرلې دندې لري. د مغزو په يوه برخه کې يو شمېر عصبي ولې غځېدلي او په مستقيم او نامستقيم ډول د بدن ټولو غړو او غړيزو غړو ته رسېږي. کله چې وغواړو يو څه په ژبه راوړو ، لومړی يو ډول عصبي فعاليت د مغزو په خوځند ځای ( Motor Aria ) کې رامنځته کېږي چې د غړيزو غړو کنترول يې پر غاړه دی. که څه هم د دې فعاليت لامل او ډول په سمه توګه څرګند نه دی ، خو د فزيولوژۍ پوهان وايي چې دا فعاليت په سلولونو کې د يوې کيمياوي عمليې له کبله ترسره کېږي او د غړيزو غړو د خوځښت او فعاليت لامل ګرځي. په دې ډول ګړهار يا وينا په څو پړاوونو کې پای ته رسي :

۱ ـ ګړيدل ، په دې معنا چې عصبي فعاليتونه پيلېږي او غړيز غړي خوځوي ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ د غږیزو غړو په خوځېدو سره د سا هوا او بیا له انسان راګرځېدلې هوا ځپیزه کېږي او په دې ډول وینایيز غږونه زېږي ؛

۳ ـ د انساني چاپېريال هوايي څپې د متحدالمرکز کرو په څېر خوځېږي او لار وهي؛

۴ ـ او د اورېدونکي غوږ ته رسي ؛

۵ ـ د اورېدونکي غوږونه ، اورېدلي غږونه د اورېدونکي حس د عصبي ولیو په مرسته مغزو ته لېږدوي. دا غږونه ، له هغو غږیزو بېلګو او نظامونو سره چې ویيونه او غونډونه يې نوموو او په حافظه کې خوندي او زېرمه دي ، تطبیق کېږي او د هغوی د مفهوم او مدلول له درک وروسته ویناوال یا ګړېدونکي ته ځواب وايي او دا عملیه بیا ترسره کېږي ، په دې ډول د ژبنۍ یا غږیزې پوهونې عملیه او ګړېدل پای ته رسي( ۱ : ۳۲ – ۳۳ ) .

روغتیایي او اروايي ( فزیولوژي ) عصبي سیستم داسې راپېژني :

عصبي سیستم د غړو ټول فعالیتونه کنترولوي ، دا سیستم د اندوکراین په پرتله چټک دی چې اندوکراین هم يو کنترولي سیستم دی. د انسان عصبي سیستم په ټوله کې دوه لویې برخې لري :

- مرکزي عصبي سیستم Central Nervous System
- محیطي عصبي سیستم Peripheral Nervous System

مرکزي عصبي سیستم بیا لاندې دوې برخې لري :

- مغزه Brain
- شوکي نخاع Spinal Cord

محیطي عصبي سیستم چې له مغزو او شوکي نخاع څخه بهر پروت دی ، هم دوی برخې لري :

۱ـ ځاني یا خودکاره عصبي سیستم Automatic Nervous System

دا سیستم بیا لاندې برخې لري :

- سمپاتیتیک عصبي سیستم Sympathetic Nervous System
- پاراسمپاتیتیک Parasympathetic Nervous System
- د هاضمې جهاز دننۍ عصبي سیستم Enteric Nervous System

۲ ـ جسمي عصبي سیستم Somatic Nervous System

دا هم لاندې برخې لري :

- حسي نیورونونه Sensory Neurons
- حرکي نیورونونه Motor Neurons

مغزه بیا لاندې درې لویې برخې لري :

- Prosencephalon : چې مخني مغزه ( Forebrain ) يې هم بولي ، لاندې دوی برخې لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library

١ ـ Telencephalon : چې د مغزو دوه برخې يا کرې پکې دي .

٢ ـ Diencephalon : چې تلموس ، هيپوتلموس ، ميتاتلموس او سب تلموس پکې دي.

- Mesencephalon: چې منځني مغزه (Midbrain) يې هم بولي.
- Rohmbencephalon : چې وروستي يا کوچني مغزه ( Hindbrain ) يې هم بولي ، په دوو برخو ويشل کېږي :
- Metencephalon چې له حدبه (Pons) او مخيخ (Cerebellum) څخه رغېدلې برخه ده .
- Myelencephalon يا د Medulaoblangata بصله (٧: ٧١ - ٧٢).

مرکزي عصبي سيستم چې له مغزو ( Brain ) او شوکي نخاع ( Spinal cord ) څخه جوړ دی چې پر حياتي عملونو باندې د څار مرکزونه دی . په دې معنا چې د چاپېريال او د بدن له دننه څخه اخيستل شوي اطلاعات تشخيص او تعبيروي او هغوی ته ځواب وايي .

په مغزو کې ( لوی او مخني ، منځني او د مغز ساقه ) برخې ګډون لري ، د لويو مغزو هغه برخې چې زموږ د څېړنې سره سيده اړيکي لري ، په لاندې ډول ، د هغوی له دندو سره :

Frontal برخه: خبرې کول ، رفتار يا سلوک ، د مسايلو حل ، پلان جوړونه .

Parietal برخه: د درد حس ، فشار ، تماس ، تودوخه ، خوند.

Temporal برخه: اورېدل ، بويول ، د بدن توازن ، حافظه

Occipital برخه: ليدل ، د ژبې زده کړه ( ٢ : ٥٥ ، ٥٦ ) .

د (فزيولوژي طبي) اثر د يادو برخو دندې داسې ليکي :

Frontal د پرانتل برخه يا پيڅکی

- د فکر ، ګرېدا او اروايي حالت کنترول
- د ځوځښتونو پلان رامنځته کول

Parietal ديوالي پيڅکی

- د پوټکي ، مفاصلو او غړو د حسي آخذو اخيستنه او د درد او اړيکو د آخذو په توګه د هغوی تحليل ، په فضا کې د پېښو او لاسو وضعيت .
- د غوږو او سترګو د وارداتي بهير تحليل .

Occipital د اکسيپيتل پيڅکی

- د ليد مرکز

Temporal د شقيقې پيڅکی

- د غږ تحليل

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اروايي احساس
- د شيزونو د بڼې او رنګ تحليل
- پر ګړېدلو پوهېدل
- د بويلو ځای ( ۷ : ۷۹ ) .

د (روان شناسی عمومي) ليکوال د يادو برخو دندې داسې ښيي :

مخنی پيخکی ( Frontal lobe ) د ډېرو استعدادونو ځای دی ، چې کولای شو له هغو څخه يې د خپلوۍ ، نوښت او پلان جوړونې ځواک نومونه ياد کړو .

(Parietal lobe) : دا پيخکی يا برخه د مغزو په پورتنۍ برخه کې د مخنيو مغزو تر شا پرته ده. بدني حواس همدلته رامنځته کېږي او د ژوند د چاپيريال اړوند يادښتونه هم همدلته زيرمه کېږي .


د وروستيو مغزو برخه ( Occipital lobe ) : په بشپړ ډول د سترګو او ليدنو د درک لپاره ځانګړې شوې ده .


د شقيقي پيخکی ( Temporal lobe ) : د سترګو او غوږو ترمنځ مغزو په دواړو لوريو کې ځای لري . اصلي دنده يې د اورېدلو درک ، ژبه ، حافظه او د هېښتيا منلو ځينې بڼې دي( ٦ : ٦٧ ، ٦٨ ) .

له پورتنيو ټولو يادونو زموږ موخه داده چې په مغزو کې هغه برخه وپېژنو چې په ژبه ، پوهونه ، ګړېدنګ او اورېدنګ کې ونډه لري . ځينې د عصبي سيستم او مغزو هغه برخه چې په ژبنيو فعاليتونه پورې اړه لري داسې راښيي :

۱ ـ د Broca برخه : پرانسي رنځپوه ( پيرپل بروکا ) پر ( ۱۸٦۱ م ) کال پر هغو وګړو ازمېښت وکړ چې ګړېدنګ کې يې نيمګړتيا وه او پوه شو چې د مغزو کومه برخه کې زيان ، د ژبنۍ او ګړېدنګ نيمګړتيا او تتله کېدو لامل ګرځي. له همدې کبله د مغزو دغه برخه د هغه په نوم ( بروکا ) ياده شوه ( ۵ : ۸۵ ) .

دا برخه د مخنيو مغزو په کيڼ اړخ کې پرته ده او د غږونو د زېږد دنده لري (۸ : ۳٦ ) .




۲ ـ Wernicke برخه : کارل ورنيک الماني رنځپوه ، د (پيرپل بروکا) لار په بل ډول وڅارله . هغه پوه شو چې د ګړېدنګ نيمګړتيا په ټوله کې د ( بروکا ) د برخې زيان نه دی ، بلکې يوه بله برخه چې د بوهېدنې او درک دنده لري ، د ژبنۍ يا ګړېدنګ نيمګړتيا لامل ګرځي . له همدې کبله د مغزو دغه برخه د دې پوه په نوم ( ورنيک ) ياده شوه ( ۵ : ۸۵ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروايي فزيولوژي د هغو وگړو وضعيت څېړلی چې ژبنۍ نيمگړتيا لري او دا يې روښانه کړې چې دا نيمگړتياوې د مغزي زيانونو له کبله رامنځته کېږي .ځينې وخت مغزي سکتې ، تومورونه او نور په وينا يا گړېدنگ کې د اختلال لامل گرځي.
د دې حالتونو يو مهم يې د مغزي رگونو تړل کېدل دي ، که د گړېدنگ په اړوندو مرکزونو کې رامنځته شي ، د ژبې يا گړهار د نيمگړتيا يا تتله کېدو لامل گرځي. په ژبنۍ يا وينايیزه نيمگړتيا کې د مغزي زيان له امله د ژبې په پوهېدنه ، د جملو تکرار او معاناوال گړېدنگ کې نيمگړتيا پيښېږي.
د ښي لاسو وگړو تر ۹۵ سلنه ډېر او د کيڼ لاسو ۷۰ سلنه د گړېدنگ لپاره د هغوی د مغزو کيڼه برخه يا کره کاروي. دې ته هم پام په کار دی چې د مغزو ښي نيمه کره هم د گړېدلو پر وخت د قضايي اړيکو ، نقشو او کړکيچنو هندسي تصويرونو په درک کې ستره ونډه لري ( ۵ : ۸۴ ) .
**پايله :** د دې څېړنې په بېلابېلو برخو کې دا موضوع رڼه او روښانه شوه چې د ژبې او گړېدنگ په چار کې عصبي سيستم او مغزه څه راز ونډه اخلي او د معناوو د بهرني شتون او لېږد لپاره مغزه څه چار ترسره کوي . دا څرگنده شوه چې د پوهاوي لپاره لومړی خوځښت په مغزو کې رامنځته کېږي او سمدستي د وينايیزو او غړېزو غړو په وسيله اړوند غږونه او وييونه رازېږي . غږونه او وييونه د هغو ذهني ښکارندو او معناوو د لېږد لپاره وسيلې دي چې زموږ په مغزو کې زيرمه شوي دي .
**مناقشه :** په پښتو ژبه کې د نيرولينگوستيکس ( Neurolinguistics ) په اړه څېړنيز مواد دومره لږ دي چې سړی پرې د نشت حکم کولای شي . له دې کبله حتا د دغې پوهې نوم هم په پښتو کې په نشت شمېرل کېږي ، خو موږ به ورته (مغزژبپوهنه) ووايو . دا پوهه د ژبپوهنې يوه څانگه ده چې په هغه څه غږېږي چې د دې ليکنې سرليک دی . ياده پوهه د مغزو او وينا يا ژبې ترمنځ اړيکي څېړي.
**وړانديزونه :** د نړۍ په کچه په ژبنيو مسايلو او د ژبپوهنې په برخه کې پراخ کار شوی چې له بده مرغه مرغه جگړه ځپلې پښتو ترې دومره لرې پاتې شوې ده . د پښتو گرامرپوهانو د زيار او کړاوه وروسته هم موږ د نورو پرمختللو ژبو په څېر بشپړ مواد نه لرو . دا چې دغه ډول مسايل د پوهنتونو د ژبې او ادب په برخه کې ښوول کېږي ، نو په کار ده ، دومره مواد پکې ولرو چې د ښوونکو او زده کوونکو سره مرسته وکړي . د ژبې څانگوالو ته وړانديز دی چې دغې برخې ته پام وکړي .

**اخځونه :**


۱ ـ الهام ، محمد رحيم . ( ۱۳۹۱ ش ) . روش جديد در تحقيق دستور زبان دری (چاپ دوم ، به کوشش سيد علی محمد اشراقی ) . کابل : انتشارات يوسفزاد .

۲ ـ جبران ، جوهر . (۱۳۹٦ ش ) . د ارواپوهنې مبادي . ننگرهار : مسلم خپرندويه ټولنه .

۳ ـ زيار ، مجاوراحمد . (۱۳۹٦ش) . پښتو وييپوهنه او ويیرغاونه ( درېيم چاپ ) . کابل : دانش خپرندويه ټولنه .

۴ ـ زيار ، مجاوراحمد . ( ۱۳۸۲ش). پښتو پښويه . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـ شمس ، شمس الدین (۱۳۹۲ش). روانشناسی فزیولوژیک. کابل : انتشارات نامی .

٦ ـ علیمی ، سراج الدین ؛ صدیقی ، ذبیح الله ؛ حبیبی ، محمدناصر. (۱۳۹۲ش) . روانشناسی عمومی . کابل : انتشارات یوسفزاد .

۷ ـ فروتن ، محمدناصر.(۱۳۹٦ش). فزیولوژي طبی ( چاپ دوم ) کابل : انتشارات عازم .

۸ ـ مرهون ، محمد .(۱۳۹۴ش) . اوازپوهنه . کابل : کاینات څیړنیز او د ژباړې مرکز .

لاندې د ( انعکاس راډیو ) لینک دی چې زما لیکنه یې خپره کړې ده .

[https://www.enikassradio.com/%D9%BE%D9%87-%DA%98%D8%A8%D9%87-%D8%A7%D9%88-%D9%88%DB%8C%D9%86%D8%A7-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%D9%85%D8%BA%D8%B2%D9%88-%D9%88%D9%86%DA%89%D9%87/](https://www.enikassradio.com/%D9%BE%D9%87-%DA%98%D8%A8%D9%87-%D8%A7%D9%88-%D9%88%DB%8C%D9%86%D8%A7-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%D9%85%D8%BA%D8%B2%D9%88-%D9%88%D9%86%DA%89%D9%87/)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**